Refugee Legal Support

Afghan Pro Bono Initiative

Hosted by Refugee Legal Support and Safe Passage International

SAFE PASSAGE

# برتانيې ته د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي (ARAP)

# ځان سره د مرستې لارښود




لومړی نسخه: 28 فبروری 2023

## اعلامیه

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې دا لارښود د یوې سرچینې په توګه لیکل شوی ترڅو د افغان اتباعو او د دوی د کورنیو له غړو سره د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي(ARAP) په پوهیدو او لاسرسي کې مرسته وکړي .

پداسې حال کې چې دا تل غوره ده چې د خپلو ځانګړو شرایطو لپاره ځانګړي قانوني مشورې وغواړئ، دا لارښود د مرستې لپاره دی که چېرې د قانوني مشورې ترلاسه کول ممکن نه وي.

د دې لارښود تعقیب تضمین نه کوي چې ستاسو غوښتنلیک به بریالی وي. د دې دلیل لپاره، موږ تاسو هڅوو چې قانوني مشوره وغواړئ. دا ناشوني ده چې (ARAP) ټولې برخې دلته تشریح کړو نو دا لارښود یوازې مهم ټکي توضیح کوي.

دا لارښود د سوداګریزې کارونې لپاره ندی. د عکسونو د هرډول کارونې یا بیا چاپولو ، یا نور توکي چې د " افغانانو لپاره وړیا حقوقي مشوره" (APBI) د کاپي حق لاندې ندي، اجازه باید په مستقیم ډول د کاپي د حق لرونکو څخه ترلاسه شي. د نورو معلوماتو لپاره شمیم سرابي سره اړیکه ونیسئ shamim@afghanprobono.org.uk

# فهرست


مقدمه 1

تعریفات 3

فصل 1: (ARAP) څه شی دی او څوک درخواست کولی شي؟ 4

فصل 2: د غوښتنلیک چمتو کولو او داخلولو څرنګوالی 7

فصل 3: د کورنۍ غړي چې مستحق دي 9

فصل 4: د کورنۍ اضافي غړي 13

فصل 5: د شواهد و چمتو کول 18

فصل 6: څنګه خپل د (ARAP) غوښتنلیک تعقیب کړئ 19

فصل 7: څه باید وکړئ که ستاسو غوښتنلیک رد شي 21

فصل 8:که ستاسو غوښتنلیک و منل شي، نو بیا څه؟ 25

ضمیمه ( الف ): د (ARAP) لپاره د بیان نمونه 28

ضمیمه (ب) : د بیا ځای کیدني وړاندیز بیلګه 30

مقدمه

## الف. د دې لارښود موخه

دا د ځان سره د مرستې لارښود " افغانانو لپاره وړیا حقوقي مشوره" (APBI) له خوا برابر شوی ده .

(APBI) یوه نوې او ځانګړې پروژه ده چې د کډوالو حقوقي ملاتړ Refugee Legal Support و Safe Passage International او د 14 مخکښو سوداګریزو حقوقي شرکتونو سره په ګډه وړاندې کیږي.

دا پروژه د افغان اتباعو او د هغوی د کورنی غړو د ضرورت لپاره ده چې د طالبانو له واک ته رسید و وروسته بریتانیا ته د خوندي لارو په اړه معلوماتو، قانوني مشورې او استازیتوب ته لاسرسی ولري.

په د (APBI) انفرادي قضیو کارتمرکز په لوړ کیفیت قانوني مشورې، راجع کول، او په یو لړ قضیو کې استازیتوب باندې ده، د کورنی د یو ځای کېدو، د (ARAP) سکیم ، د افغان اتباعو د بیا میشتیدنې سکیم او نورو په شمول.

## ب. دا لارښود د چا لپاره دی؟

دا لارښود د هغو افغانانو لپاره دی چې د افغانانو د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي (ARAP) لاندې د درخواست کولو مستحق دي او غواړي چې درخواست وړکړي.

د لارښو موخه دا ده چې د هر هغه چا سره مرسته وکړي چې قانوني سابقه نه لري تر څو د قانوني مشاور له ملاتړ څخه پرته غوښتنلیک چمتو او وړکړي.

## ج . دا لارښود څنګه وکاروئ؟

دا لارښود د یو واحد لارښود په توګه کارول کیدی شي یا هغه افغان اتباعو ته اضافي مرستې چمتو کولو لپاره چې غواړي د (ARAP) لاندې درخواست وکړي. دا لار ښود باید چې د (ARAP) له اصلي قانون او لارښود ( چې د کورنیو چارو د وزارت له خوا لیکل شوی ) یوځای ولوستل تر څو د هر ډول غلط فهمی مخه ونیول شي.

که چیرې پدې لارښود کې په ګوته شوي کوم ټکي روښانه نه وي یا تاسو نورو معلوماتو یا مرستې ته اړتیا لرئ، موږ وړاندیز کوو چې تاسو د قانوني متخصص څخه مشوره وغواړئ.

کلیمې او اصطلاحات په تیز او روښانه رنګ په لارښود کې تعریف شوي دي مګر ټول تعریفونه د دې لارښود په ابتدا کې هم شامل دي.

## د. فیډبیک

موږ به واقعیا د دې لارښود په اړه د نظرونو ستاینه وکړو. که تاسو د دې لارښود په اړه کوم نظر، پوښتنې یا وړاندیز لرئ، مهرباني وکړئ د دې فرم له لارې یې موږ سره شریک کړئ.

## ه. مننه

**(APBI)** غواړي د ملاتړ Refugee Legal Support و Safe Passage International ، له ټولو څخه د دوی د دوامداره ملاتړ اوزحماتو لپاره په دې لاربښود کې او همدارنګه زموږ د یو شمیر پرو بونو رضاکارانو د لار ښود په لیکولو او جوړولوکې مننه وکړي.

ځانګړې مننه د ټولنې له غړواحمدشاه صدیقي، میر احمد یوسفي و طارق متین د لاربښود په ازمايښت او د خپل نظر د شریکولوڅخه او سید عرفان کاظم څخه د افغانستان له طبیعت څخه دهغه عکس لپاره چې دوی په خپله اخیستئ دی، چې د همدې لاربښود د پوښ عکس دی.

# تعریفات

| | | |
|---|---|---|
| **AFM rules / additional family member rules** | the additional family member immigration rules | د کورنۍ اضافي غړي د کډوالۍ مقررات |
| **APBI** | the Afghan Pro Bono Initiative | افغانانو لپاره وړیا حقوقي مشوره |
| **ARAP** | the Afghan Relocations and Assistance Policy | د افغانانو د ځای پرځای کولو او مرستې پالیسي |
| **ARAP Team** | the UK Government's casework team working on ARAP applications | د انګلستان د حکومت د قضیو کاري ټیم چې د په غوښتنلیکونو باندې کار کوي |
| **DARR Team** | the UK Government's Defence Afghan Relocation and Resettlement team | د انګلستان دفاع ځای پر ځای کولو او بیا مشتېدنې ټیم |
| **Relocation Offer** | an offer to relocate to the UK under ARAP | د اې ار اې پی لاندې انګلستان ته د ځای پر ځای کولو وړاندیز |

# فصل 1: (ARAP) څه شی دی او څوک درخواست کولی شي؟

## 1.1 (ARAP) څه شی دی؟

سکیم د 2020 په دسمبر کې اعلان کړ او د 2021 په اپریل کې یې پیل کړ. د انګلستان حکومت د **(ARAP)** د دې لاربښود جوړېدو تر نیټې پورې د هغو خلکو په شمیر کې هیڅ حد نشته چې د سکیم لاندې ځای په ځای شي او دا سکیم د دایم لپاره خلاص دی.

**(ARAP)** مستحقو اشخاصو ته اجازه ورکوي چې د انګلستان حکومت ته د ځای پر ځای کېدو لپاره درخواست وکړي. دا سکیم د هغو اشخاصو سره د مرستې لپاره ډیزاین شوی چې په مستقیم ډول په افغانستان کې د انګلستان د حکومت لخوا استخدام شوي (یا مخکې ګمارل شوي) او د طالبانو له جدي خطر سره مخ دي.

د کورنۍ نږدې غړي (د مثال په توګه، ښځه/مېړه، ماشومان) د **(ARAP)** غوښتنلیکونو کې شاملیدی شي. د کورنۍ نور غړي هم په استثنايي شرایطو کې شاملیدی شي ([**3 فصل**] او [**4 فصل**] وګورئ)

د **(ARAP)** لاربښود چې د انګلستان د حکومت لخوا صادر شوی [دلته] موندل کېدی شي او د افغان اتباعو لپاره د انګلستان د مهاجرت د لارو په اړه د هاوس آف کامنز ( ولسي جرګې) اضافي لاربښوونې [دلته] شتون لري

د **(ARAP)** د مهاجرت اړونده مقررات هم [دلته] کتلی شئ.

## 1.2 څوک کولی شي د (ARAP) لاندې د مرستې لپاره غوښتنه وکړي؟

هر هغه څوک چې د **(ARAP)** لاندې د ځای په ځای کولو غوښتنه کوي باید چې

یو افغان تبعه وي
عمر 18 یا پورته وي او
د لاندې څلورو کټګوریو څخه یوه کې راشئ

د **(ARAP)** غوښتنلیک له هر هیواد څخه جوړېدی شي (په شمول د انګلستان دننه)

که تاسو**(ARAP)** معیارونه پوره کړئ، تاسو به وکولی شئ انګلستان ته د راتګ لپاره د دایمي استوګنې غوښتنه وکړئ. که تاسو دمخه په انګلستان کې د یوې بلې کټګورۍ لاندې موقتي اقامه لرئ نو تاسو کولی شئ د **(ARAP)** لاندې غوښتنه وکړئ ترڅو خپل د پناهنده ګۍ سټېټس دایمي اقامې ته بدل کړئ.

هغه څوک چې د **(ARAP)** په معیارونه کې راځي اوس مړ وي، تراوسه دا روښانه نده چې ایا د دوی د کورنۍ ژوندي غړي به د **(ARAP)** سکیم لاندې غوښتنه وکړئ شی.

تاسو باید دلاندې په یوې کټګورۍ کې راشئ ترڅو د ځای پرځای کېدو یا نورو مرستو د **(ARAP)** اندې مستحق شئ.[1]

---

[1] [قوانین مهاجرت (ARAP)3.2]

کټګورۍ 1- د حتمي یا لوی خطر مجودیت

دا کټګورۍ د تطبیق وړ ده که چیرې، تاسو د 2006 کال د اکتوبر له 1 ، راهیسي په هر وخت کې، په افغانستان کې د برتانیي د حکومت د یوې څانګې (د بیلګې په توګه، د دفاع وزارت، بهرنیو چارو وزارت او داسي نور) لخوا ګمارل شوي یاست.

ستاسو ژوند باید د دې دندې د ترسره کولو له امله، له حتمي او لوی خطر سره مخ وي. پدې کې کیدای شي د بیلګې په توګه، فزیکي تاوتریخوالی یا ډارول راشي، د هغه رول له امله چې تاسو یې لرئ، یا مخکې مو د انګلستان د حکومت په څانګه کې درلود.

هغه خلک چې پدې کټګورۍ کې راځي د **(ARAP)** سکیم لاندې انګلستان ته بیا میشته کیدی شي.

کټګورۍ 2 - تاسو د "معنی وړ ، ښکاره ، پیاوړي" رول درلود.

دا کټګورۍ د تطبیق وړ ده که چیرې، د کال2001 د اکتوبر1 له راهیسي په هر وخت کې، تاسو په افغانستان کې د انګلستان د حکومت لخوا په کار ګمارل شوي یاست، یا د انګلستان د وسله والو ځواکونو په ملاتړ کې د ژبني خدماتو (د مثال په توګه ژباړونکي) په توګه ګمارل شوي یاست. .

تاسو باید دا وښایئ چې که تاسو دا رول نه وي ترسره کړی، د انګلستان عملیات به په افغانستان کې په مادي توګه لږ اغیزمن یا بریالي وو. په بل عبارت، تاسو باید دا وښایئ چې ستاسو رول په افغانستان کې د انګلستان له عملیاتوسره مرسته کړې.

تاسو باید دا هم وښایئ چې تاسو په عامه توګه د دندې ترسره کولو په توګه پیژندل شوي یاست او په پایله کې، ستاسو شخصي خوندیتوب په خطر کې دی. تاسو کولی شئ دا وښایئ، د بیلګې په توګه، د دې په ښودلو سره چې ستاسو دنده ستاسو په خپله سیمه کې ټولو خلکو ته ښه معلومه وه ، یا که چیرې تاسو د خپلې دندې له امله د تاوتریخوالی یا ډارولو ګواښونه ترلاسه کړي وي.

هغه خلک چې پدې کټګورۍ کې راځي د **(ARAP)** سکیم لاندې انګلستان ته ځای پر ځای کیدی شي.

کټګورۍ 3 - تاسو په 1 یا 2 کټګورۍ کې نه یاست، مګر د ځای پر ځای کولو پرته د مرستې مستحق یاست.

3 کټګورۍ مخکې د دې لپاره وه چې که تاسو په 1 یا 2 کټګوریو کې نه راتلئ.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې 3 کټګورۍ اوس مهال په افغانستان کې د اوسني وضعیت له امله ځنډول شوې. دا روښانه نه ده چې دا به کله او بیا پیل شي.

کټګورۍ 4 - ستاسو قضیه په 1 یا 2 کټګورۍ کې نه راځي، مګر ځانګړي فکتورونه شته چې پدې معنی دي چې تاسو لاهم د ځای په ځای کیدو لپاره مستحق یاست

که تاسو په 1-2 کټګوریو کې نه راځئ، تاسو بیا هم د ځای پرځای کیدو مستحق یاست که تاسو ځینې معیارونه پوره کړئ. دا کټګوری پلې کیدی شي چیرې چې ستاسو د غوښتنلیک په ملا تړ ځانګړي عوامل موجود وي، په هرصورت، د دې کټګوری ثابتول ستونزمن دي او تاسو باید لاندې لست شوي درې معیارونه پوره کړئ:

1. تاسو باید دا وښایئ چې د 2001 کال د اکتوبر له لومړۍ نیټې راهیسې په هر زمان کې تاسو په افغانستان کې: (الف) په مستقیم ډول د انګلستان د حکومت لخوا په کار ګمارل شوي یاست، یا (ب) تاسو د انګلستان حکومتی ځانګو ته خدمات یا توکي برابر کړي (د مثال په توګه، د ژباړې خدمتونه)، یا (پ) تاسو د انګلستان د حکومت له یوې ادارې سره په ګډه کار کړی، یا مو له نږدې ملاتړ کړی؛ او
2. تاسو باید دا هم وښایئ چې د دې دندې یا کار په جریان کې، تاسو په افغانستان کې د انګلستان حکومت نظامي اهدافو، یا د انګلستان حکومت د ملي امنیت اهدافو (د مثال په توګه، د تروریزم سره مبارزه، د فساد سره مبارزه، د مخدره توکو سره د مبارزې موخې، او داسې نور) سره دپام وړ او مثبته مرسته کړې او

3. تاسو باید وکولی شی چې دا وښایئ چې د دې دندې یا کار له امله تاسو د برید یا د مړینې یا جدي ټپي کیدو لوی خطر سره مخ یاست. او یا ، تاسو باید وښایئ چې تاسو داسې معلومات لرئ چې د انګلستان حکومت یا د هغې ګټو ته یو ځانګړي ګواښ رامینځته کولی شي.

هغه خلک چې پدې کټګوری کې راځي د **(ARAP)** سکیم لاندې انګلستان ته ځای پر ځای کیدی شي.
تاسو ممکن د **(ARAP)** لاندې درخواست ونشئ کړی که تاسو له خپلې دندې ګوښه شوي یاست، مګر دا چې تاسو د یوه کوچني دلیل لپاره ګوښه شوي یاست. که تاسو د انګلستان د حکومت د اداره لخوا بې کاره شوي یاست، یا له افغانستان څخه د انګلستان د اردو د وتلو له امله مو استعفا ورکړې وي، دا سکیم ممکن ستاسو سره مرسته وکړي.

# فصل 2: د غوښتنلیک چمتو کولو او داخلولو څرنګوالی

## 2.1 د غوښتنلیک چمتو کولو پروسه

لاندېنی چوکاټ ستاسو د غوښتنلیک د بشپړولو لپاره اړین ګامونه ښیي




د دي لپاره چې د (ARAP) لاندي درخواست وکړئ تاسو باید چې د غوښتنلیک فورمه ډکه کړئ. د دې فورمې یوه کاپي دلته ده.

تاسو باید چې د غوښتنلیک تر څنګ اسناد هم ورکړئ. څرنګه چې د معلوماتو او شواهد و راټولول وخت نیسي، تاسو باید ژر تر ژره د خپل غوښتنلیک د ملاتړ لپاره د شواهد و راټولول پیل کړئ.

فورمه باید آنلاین ډکه شي او دلته موندل کیدی شي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې آنلاین فورمه نه ساتل کیږي او نه یي بیا کتلئ شي، نوضروری ده چې دا په یو وار کې بشپړه کړئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل غوښتنلیک پیل کولو دمخه لاندې لیست شوي معلومات راټول کړي وي.

دا فورمه 11 پوښتني لري، چې اته یې لازمي دي او تاسو باید حتمي ځواب ورکړئ. تاسو باید د غوښتنلیک فورمه کې لاندې معلومات ډک کړئ:

1. بشپړ نوم ( هر ډول چې ستاسو پاسپورت یا د پېژندني اسنادو کې لیکل شوی وي ). که تاسو پاسپورت اویا د پېژندنې اسناد نلري خپل نوم هر ډول یې چې املا غوره کنئ ولیکئ.
2. د پلار بشپړ نوم
3. ستاسو د کورنی د غړو شمیر

4. ستاسو برېښنالیک آدرس
5. ستاسو د اړیکو (ټیلیفون) شمیره
6. ستاسو اوسنی ښار، سیمه یا د اوسیدو هیواد
7. ستاسو اوسنی پته
8. ستاسو د اوسنی یا پخوانۍ دندې په اړه معلومات (وظیفه، ستاسو د ګمارونکي توضیحات، د کار پیل نیټه او ایا تاسو اوس هم کار کوئ).

که څه هم دا لازمي نه ده، تاسو باید لاندې معلومات هم چمتو کړئ که چیرې شتون ولري:

- LSU, CISS شمیره یا د کارمندانو شمیره
- پاسپورټ یا د تذکرې شمیره

که تاسو د4 کټګورۍ لاندې درخواست کوئ (یعنې ځانګړې قضیه) او د 1 یا 2 کټګورۍ معیارونه نه پوره کوئ او ځای په ځای کېدو ته اړتیا لرئ ، نو دا به ګټور وي چې تاسو د غوښتنلیک فورمې سره یو بیان هم وسپارئ کوم چې ستاسو د شرایطو په اړه اضافي معلومات ورکړي.

د **(ب) په ضمیمه** کې یوه نمونه شامله ده چې تاسو یې کارولی شئ.

# فصل 3: د کورنۍ غړي چې مستحق دي

## 3.1 د کورنۍ کوم غړي کولی شي د (ARAP) لاندې ځای پر ځای شي؟[2]

که تاسو د (ARAP) لاندې مستحق یاست، ستاسو په غوښتنلیک یوازې د کورنۍ ځینې غړي شاملېدی شي، چې دا به :

- ستاسو پارټنر (دژوند شریک) (ځوک د ژوند شریک ګڼل کیږي لاندې تشریح شوي)؛
- ستاسو هر ماشومان چې د 18 کلونو څخه کم وي؛ او
- ستاسو د ښځې/ مېړه کوم ماشومان چې د 18 کلونو څخه کم وي.

د کورنۍ ټول غړي چې ستاسو سره ځای پرځای کیدل غواړي باید د درخواست په وخت کې په غوښتنلیک کې شامل شي

که تاسو له یو څخه ډیر پارټنر لرئ، یوازې ستاسو یو پارټنر کولی شي انګلستان ته د راتلو یا پاتې کیدو لپاره غوښتنه وکړي.

که تاسو خپل مور او پلار، ورونه یا د کورنۍ نور غړي هم شامل کړئ، دوی به د کورنۍ د اضافي غړو پالیسی لاندې په پام کې ونیول شي .د نورو معلوماتو لپاره، **4 فصل** وګورئ.

## 3.2 څوک د (ARAP) لاندې د "پارټنر" د ژوند شریک په توګه ګڼل کیږي[3] ؟

یو 'پارټنر' کیدای شي ستاسو میرمن، ستاسو میره، ستاسو مدني شریک یا هغه څوک وي چې تاسو د غوښتنلیک ورکولو دمخه لږ تر لږه دوه کاله د واده په څیر اړیکه کې له یو بل سره ژوند کړئ وي.

هر داسې پارټنر باید:

- د غوښتنلیک په نیټه کې 18 کلن یا ډیر عمر ولري؛ **او**
- د کورنۍ نږدې خپلوان نه وي (د نیکه، مور او پلار، ورور، خویندې او اورونه له بل مور او یا پلار نه ، ماشوم، وراره یا وریره، یا پالونکي (فرزندي) والدین او ماشومان)؛ **او**
- تاسو په شخصي توګه لیدلي دي؛ او
- له تاسو سره په ریښتیني او دوامداره اړیکه کې اوسي؛ **او**
- تاسو باید په انګلستان کې له یو بل سره د دایمي ژوند کولو اراده ولرئ.

## 3.3 څوک د (ARAP) لاندې د "ماشوم" په توګه ګڼل کیږي؟[4]

یو 'ماشوم' کیدی شي د غوښتنلیک په نیټه د 18 کلونو څخه کم وي چې د لاندې کټګوریو لاندې راځي:

---

2 قوانین مهاجرت (ARAP)10.2
3 قوانین مهاجرت (ARAP)11
4 قوانین مهاجرت (ARAP)12

- ستاسو او ستاسو د پارتنر (لکه څنګه چې پورته تعریف شوی) ماشوم؛ **یا**
- ستاسو ماشوم او د ماشوم مور او پلار مړه دي یا تاسو د ماشوم د لویولو یوازینی مسؤلیت لرئ؛ **یا**
- ستاسو د پارتنر ماشوم او د ماشوم مور او پلار مړه دي یا ستاسو پارتنر د ماشوم د لویولو یوازینی مسؤلیت لري؛ **یا**
- ستاسو یا ستاسو د پارتنر فرزندي ماشوم (لاندې د فرزندي ماشومانو په اړه اضافي توضیحات وګورئ)

هر داسې ماشوم باید:

- واده نه وي او یا په مدني پارتنرشیپ کې نه وي؛
- خپله کورنۍ یې نه ده جوړه کړې (د بیلګې په توګه خپل کور یې پرېښئ وي چې د پارتنر سره ژوند وکړي، خپل ماشومان ولري)؛ او
- اوس هم په خپلو والدینومتکي کوي (د بیلګې په توګه دوی عایدات نه لري، د کورنۍ څخه جلا ژوند نه کوي).

## 3.4 څوک د (ARAP) لاندې د "فرزندي ماشوم" په توګه منل کیږي[5]؟

د دې لپاره چې د یو 'فرزندي ماشوم' په توګه و منل شي، ماشوم باید چې یا په رسمی توګه د تاسو د هیواد د محکمو له قانون سره سم په فرزندي نیول شوی وي **او** یا

- باید له تاسو یا ستاسو پارتنر سره لږ تر لږه د 18 میاشتو لپاره یوځای ژوند کړی وي، او 12 میاشتې یوکال ستاسو د غوښتنلیک څخه سمدستي مخکې؛ او
- تاسو یا ستاسو پارتنر باید د دې دورې له پیل راهیسې د ماشوم د مور او پلار رول په غاړه اخیستی وي.

د پورتنیو نکاتو پر سربېره ، فرزندي ماشوم سره باید:

- ستاسو یا ستاسو د پارتنرد نورو ماشومانو په څیر چلند وشي؛ او
- په فرزندي نیول شوی دي ځکه چې د ماشوم مور او پلار نشي کولی د دوی پالنه وکړي؛ او
- له خپلې اصلي کورنۍ سره یې تولې اړیکې پرې کړې؛ او
- یواځې د دې لپاره په فرزندي نه ده نیول شوی چې وکولای شي انګلستان ته راشي.
-

## 3.5 کوم اسناد باید چمتو شي؟

کله چې تاسو درخواست کوي او په خپل غوښتنلیک کې خپل پارتنراو/یا خپل ماشومان شاملوئ، دا به ښه وي چې تاسو اسناد چمتو کړئ تر څو دا ثابته کړي چې دوی ستاسو پارتنر او/یا ماشومان دي، د پورتني توضیحاتو سره سم.

د اړیکو د ثبوت اصلي لاره به ستاسو د واده سند، د زیږېدني سند او تذکرې وي.

په لومړني غوښتنلیک کې، د دې بنودلو لپاره هیڅ شواهدو ته اړتیا نشته، مګر که تاسو د سکیم لاندې ومنل شئ نو له تاسو به د دې اسنادو غوښتنه وشي. که تاسو دا اسناد نلرئ، په پام کې ونیسئ چې کوم بل سند شتون لري چې تاسو یې

[5] [قوانین مهاجرت 309A-311]

کارولی شئ، لکه ستاسو د واده عکسونه یا د کورنۍ نور عکسونه یا ستاسو د کورنۍ د غړو بیانونه یا ایا تاسو په خوندي ډول کوم اسناد ترلاسه کولی شئ چې اړیکه ثابتوي.

## 3.6 د ردولو دلایل

ستاسو د کورنۍ غړي ممکن اجازه ونلري چې انګلستان ته کډه شي که چیرې دوی د "ردولو لپاره کوم دلیل" رامینځته کړي. په دې کې عموما د جدي جنایي جرمونو ترسره کول شامل دي او په ډیرو قضیو کې د امکان لړ دی مګر تاسو باید له دې څخه خبر اوسئ.
ځیني د ردولو دلیلونه په اتوماتیک ډول دي، چې که په دې شرایطو کې راشي نو ستاسو د کورنۍ غړي به ونشي کولای چې انګلستان کې ځای پر ځای یا پاتې شي.

نور د ردولو دلیلونه اتومات نه دي مګر کولی شي ستاسو د کورنۍ غړي انګلستان ته د ننوتلو یا پاتې کیدو څخه بې برخي کړي. پدې کې هغه شرایط شامل دي چیرې چې شخص:

- یو جنایي جرم ترسره کړی (په انګلستان یا بهر کې) او د پایلي په توګه د 12 میاشتو یا ډیرو لپاره په بند محکوم شوی، یا یو جنایي جرم ترسره کړی چې جدي زیان یې اړولی وي؛
- په دروغ واده یا مدني پارتنرشیپ کې ښکیل شوي (په دې معنی چې اړیکه ریښتیني نه وه)؛
- غلط بیانونه ورکړي یا د غوښتنلیک په اړه غلط اسناد یا معلومات چمتو کړي، حتی که د دې غوښتنلیک پورې اړوند نه وي او حتی که سړی نه پوهیږي چې دا بیانونه، اسناد یا معلومات غلط دي؛ او
- د غوښتنلیک په تړاو د اړوندو حقایقو په افشا کولو کې ناکام وي.

د ردولو لپاره د اساساتو بشپړ لیست دلته شتون لري. دا د کورنۍ په اضافي غړو باندې تطبیق کیږي چې په 4 فصل کې پیژندل شوي.

## 3.7 د (ARAP) د غوښتنلیک د پروسې په جریان کې د درخواست کونکي په کورنۍ کې بدلونونه

که، د خپل (ARAP) دغوښتنلیک له سپارلو وروسته، تاسو واده کوئ یا مو ماشوم پیدا کیږي، تاسو باید ژر تر ژره د (ARAP) د قضیو دبریتانیوی دولت کاري تیم (ARAP) سره اړیکه ونیسئ.

یوازې د کورنۍ هغه غړي چې د کورنۍ د اړونده غړو په توګه ثبت شوي وو کله چې د دفاع وزارت ستاسو وړتیا تاکلې وه به د (ARAP) لاندې د کورنۍ د غړو په توګه مستحق وي. د کورنۍ نور غړي باید انګلستان ته د کډوالۍ لپاره د یوې بلې لارې لاندې غوښتنه وکړي.

د دې لپاره یوازینی استثنا د انحصاري ماشوم په قضیه کې ده چیرې چې استثنایی شرایط شتون لري. د (ARAP) قوواعد وایي چې د یو انحصاري ماشوم لپاره غوښتنلیک ورکول کیدی شي چې د والدینو څخه په بل وخت کې جوړ شوی

وي مګر یوازې هغه وخت چې پریکړه کونکی راضي وي چې د غوښتنلیک د ورکولو لپاره جدي او مجبور دلیلونه شتون لري.[6]

[6] قوانین مهاجرت d) 4. 12(ARAP)

# فصل 4 : د کورنۍ اضافي غړي

که تاسو د (ARAP) له لارې برتانیا ته د کډه کولو وړ یاست، تاسو کولی شئ د کورنۍ ځیني اضافي غړو ته هم برېتانیا ته د ځای په ځای کولو لپاره غوښتنه وکړئ. د کورنۍ اضافي غړي به د کډوالۍ اصلي مقرراتو لاندې په پام کې ونیول شي په (ARAP) ( د کورنۍ د اضافي غړو قواعد یا د " AFM قواعد".)

د 4 فصل معلومات د کورنۍ په اضافي غړو پورې اړه لري، په بل عبارت د کورنۍ غړي چې د (ARAP) لاندې د ځای پرځای کېدو مستحق ندي چې پورته په 3 فصل کې توضیح شوي.

د کورنۍ د اضافي غړو مثالونه د (ARAP) د درخواست کونکي والدین او خویندې/ ورونه دي.

که تاسو د یو پارتنر او یا اړونده ماشوم د ځای په ځای کولو غوښتنه کوئ چې په 3 فصل کې موجود شرایط پوره کوي، مهرباني وکړئ هغه پروسه تعقیب کړئ چې په 3 فصل کې ښودل شوي.

که تاسو د کورنۍ د یو غړي د ځای په ځای کولو غوښتنه کوئ چې په 3 فصل کې ټاکل شوي شرایط نه پوره کوي، دوی کولی شي د کورنۍ د اضافي غړو قواعد و سره سم ستاسو سره د ځای په ځای کېدو غوښتنه وکړي.

4 فصل دا بیانوي:

- هغه شرایط چې ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید پوره کړي ترڅو د کورنۍ د اضافي غړو قواعد یا د " AFM قواعد" و سره سم انګلستان ته د ځای پرځای کېدو لپاره وړتیا ولري
- وړاندیز شوي اسناد چې دا ونښیي چې ستاسو د کورنۍ اضافي غړي د کورنۍ د اضافي غړو قواعد یا د " AFM قواعد" و سره سم د ځای پرځای کېدو شرایط پوره کوي.
- د غوښتنلیک پروسه د کورنۍ د اضافي غړو قواعد یا د " AFM قواعد" لاندې.

## 4.1 د AFM قواعد سره سم د درخواست شرایط

### 4.1.1 د کورنۍ مستحق اضافي غړی[7]

له مقرراتو سره سم، تاسو کولی شئ د کورنۍ د هر هغه غړي لپاره غوښتنه وکړئ کوم چې د 18 څخه د کم عمر لرونکي پارټنر یا اړونده دماشوم نه وي ترڅو تاسو سره د ځای پرځای کېدو اجازه درکړل شي 3 فصل د نورو مشخصاتو لپاره وګورئ چې څوک د د تاسو د پارټنر او اړونده ماشومانو په حساب کې راځي. د کورنۍ غړی باید ستاسو یا ستاسو د پارټنر خپلوان وي. د کورنۍ غړی نشي کولی یو بل یا اضافي پارټنر وي. دوی باید په لاندې لست شوي یو یا دواړه معیارونه هم پوره کړي

که چیرې د کورنۍ اضافي غړی یو ماشوم وي چې د مور او پلار پرته د کورنۍ د اضافي غړو په توګه غوښتنه کوي نو ځیني نور معیارونه شتون لري چې دا دي:
الف) تاسو یا ستاسو پارټنر باید د دوی قانوني سرپرست وي یا

---

[7] قوانین مهاجرت 13

ب) د دوی مور او پلار یو باید په انګلستان کې اوسېږي چې یا برتانوي وي یا په انګلستان کې پرته له کوم محدودیت څخه د اوسیدو حق ولري یا

پ) باید "جدي او قانع کونکي دلایل" وي چې د دوی ستاسو او ستاسو له پارټنر سره یوځای کیدو لپاره غوښتنلیک ومنل شي.

### 4.1.2 خوندیتوب ته لوړ خطر

د کورنۍ د اضافي غړي غوښتنلیک باید چې وښیي چې دوی د هدفي بریدونو 'لوړ خطر' سره مخ دي، ځانګړي ګواښونه یا ویره چې دوی د "مرګ یا جدي ټپي کیدو" خطر سره مخ کوي، دا یوازې هغه وخت په پام کې نیول کیږي چې ریښتیني او د تایید وړ دلیلونه وي چې ستاسو د کورنۍ د غړي خوندیتوب او امنیت د ستاسو انګلستان حکومت له اداري یا واحد سره د دندې په پایله کې ده.

له هغه دولتي څانګه یا واحد چې تاسو ورسره کار یا همکاري کړی ده غوښتنه کیږي چې دوی دا وارزوي چې ایا ستاسو کار ستاسو د کورنۍ اضافي غړي له خطر سره مخ کړي.

د لاملونو ځیني مثالونه په لاندې ډول دي:

- که ستاسو د کار په پایله کې ستاسو د کورنۍ غړي ته ځانګړي ګواښونه یا ډارول شوي وي. د مثال په توګه، تاسو یا ستاسو د کورنۍ اضافي غړي ممکن د برتانیا له حکومت سره ستاسو د کار په پایله کې د طالبانو لخوا ګواښونکي لیکونه یا تلیفونونه ترلاسه کړي.
- که ستاسو د کورنۍ نور غړي ستاسو د کار په وجې د کور په کور پلټنو له لارې په نښه شوي وي او په پایله کې له طالبانو څخه پټ وي.

خطر باید مختص د کورنۍ اړوند غړي ته وي او باید د غوښتونکي لخوا د ترسره شوي وظیفې پورې اړه ولري چې د **(ARAP)** لاندې منل شوی وي.

### 4.1.3 ځانګړی زیانمنتیا او وابستګي

ستاسو د کورنۍ غړی زیاتر زیانمن دي او لاندې شرایط پوره کوي

1. ستاسو د کورنۍ غړي ځانګړي زیانمنني سره مخ دی؛ **او**
2. د دې ځانګړي زیانمنني له امله ستاسو کورنۍ په استثنايي توګه تاسو ته محتاج ده ، **او**
3. ستاسو د کورنۍ غړي به په افغانستان کې د اړتیا وړ پاملرني یا خوندیتوب د ترلاسه کولو توان ونلري. **او**
4. یا هم:

الف. ستاسو د کورنۍ غړي په افغانستان کې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب د نه ترلاسه کولو لامل دا دی چې د اړتیا وړ کچه یا پالنه یا محافظت شتون نلري او هیڅ ځوک نشته چې په معقول ډول یې چمتو کړي. یا

ب. په افغانستان کې د کورنۍ غړي د اړتیا وړ پاملرنې او محافظت د نه ترلاسه کولو لامل دا دی چې د اړتیا وړ پاملرنې یا خوندیتوب په مناسبه بیه نه پیدا کېږي.

### 4.1.4 نور قانع کوونکي دلیلونه

د دې لپاره چې د خپلې کورنۍ د اضافي غړو لپاره ستاسو غوښتنلیک ومنل شي تاسو باید چې امنیتي ستونځې یا اضافي زیانمننې څرګنده کړئ چې پورته ذکر شوي.

که تاسو یواځې د ماشوم لپاره غوښتنه کوئ نو تاسو باید 'جدي او قانع کونکي دلیلونه' وښایاست چې ولې دوی باید ستاسو سره وي. د کورنۍ د ټولو غړو لپاره دا ارزښت لري چې کوم بل "رېښتیني، د تایید وړ، قانع کونکي دلایل" شامل شي چې ستاسو د کورنۍ غړي باید ستاسو سره ځای په ځای شي.

مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې **(ARAP) یا ARAP Team** الندې غوښتنلیکونه په خورا غور سره ګوري او د حکومت د ځانګړي ارزونه یو مهم فکتور دی. که ستاسو د کورنۍ اضافي غړي د امنیتي اندېښنو یا اضافي زیانونو له مخې ټاکل شوي معیارونه پوره نکړي، نو دا امکان نلري چې ستاسو د کورنۍ غړي ومنل شي.

## 4.2 لازمي شواهد او وړاندیز شوي شواهد

ستاسو د کورنۍ د اضافي غړي لپاره ستاسو غوښتنلیک باید په اسنادو تائید شي.

تاسوباید چې **(ARAP)** لاندې له درخواست کوونکي سره د کورنۍ د اضافي غړي د اړیکو شواهد چمتو کړئ او اسناد چې هغه قانع کونکي دلیلونه ثابت کړي چې ولې د کورنۍ اضافي غړی باید ستاسو سره انګلستان ته کډه شي.

دا سپارښتنه کیږي چې تاسو په خپل غوښتنلیک کې د هر حقیقي بیان د ثابتولو لپاره اسناد شامل کړئ

### 4.2.1 د کورنۍ اړیکو اسناد

تاسو باید د **(ARAP)** سکیم الندې د درخواست کونکي په توګه ستاسو سره د خپلې کورنۍ د غړي اړیکې ثابتولو لپاره اسناد وړاندې کړئ.
د مثال په توګه، تاسو کولی شئ د زیږیدنې سندونه، د مړینې سندونه، د واده سندونه او نور چمتو کړئ. که امکان ولري، تاسو باید دا اسناد د تصدیق شوي ژباړونکي لخوا وژباړئ ځکه چې ممکن د **(ARAP)** ټیم به د تصدیق شوي ژباړې غوښتنه وکړي که تاسو بریالي شئ.

که تاسو نشئ کولی دا اسناد چمتو کړئ، تاسو باید د غوښتنلیک په فورمه کې تشریح کړئ چې ولې تاسو اسناد نشي چمتو کولی او داړ ترلاسه کړئ چې تاسو د کورنۍ د هر غړي سره د خپل شاهد په بیان کې اړیکه تشریح کوئ.

### 4.2.2 د خطر، زیانمنتیا او د قانع کونکو دلایلو شواهد

تاسو باید د قانع کونکو دلایلو اسناد وړاندې کړئ چې ولې تاسو باور لرئ ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید انګلستان ته کډه شي.

د امنیتي ګواښ د ثبوت لپاره، تاسو کولی شئ د اړونده ګواښونو او / یا ډارولو عکسونه، سکرین شاټونه ، ویډیو یا آډیو ریکارډونه چمتو کړئ. دا مهمه ده چې کله د کوم امنیتي ګواښ څرګندونه کوئ دا ستاسو د انګلستان حکومتي اداري سره ستاسوله دندې او یا همکارئ سره تړاو لري. تاسو کولی شئ د دې تشریح کولو لپاره د شاهد بیان شامل کړئ یا د برتانیا د کوم همکار څخه ملاتړي لیکونه چمتو کړئ ځوک چې شاهدي ورکړي چې دا ګواښ ستاسو د کار سره تړاو درلود.

د دې ثبوت لپاره چې ستاسو د کورنۍ غړی استثنایی زیان منونکي لري، تاسو کولی شئ طبي شواهد شامل کړئ، لکه د ډاکټر لیکونه چې د ملاقات یا تشخیص وي او یا درملو نسخې. مخکینی لارښود کې وویل شو چې روغتیایي تکالیف یا مریضي اسناد باید د طبي متخصص لخوا تشخیص او د روغتیاي شرایطو مشخصات او د دې اثر په شخص او په اړونده پاملرنې باندې وشي. د دې معلوماتو په شمول د ډاکټر لخوا یو لیک به ستاسو د غوښتنلیک سره مرسته وکړي.

د دې لپاره چې وښیي چې ستاسو د کورنۍ غړي نشي کولی په افغانستان کې په اړینه کچه پاملرنه یا محافظت ترلاسه کړي ځکه چې د پاملرنې یا محافظت کچه شتون نلري یا په مناسبه بیه نه وي او هیڅ ځوک نشته چې په معقول ډول یې چمتو کړي، تاسو کولی شئ د مرستي طبي لیکونه چمتو کړئ که مناسب وي. تاسو کولی شئ په عمومي ډول په افغانستان کې د روغتیا د پاملرنې سیستم په اړه کوم شواهد هم شامل کړئ او د انګلستان حکومت د پالیسی معلوماتو یادښتونه ممکن مرسته وکړي: نور معلومات دلته شتون لري.

### 4.2.3 د شاهدانو بیانونه

تاسو ممکن د خپلې کورنۍ له غړي یا نورو اړوندو اشخاصو څخه وغواړئ چې د غوښتنلیک په ملاتړ کې د شاهد بیان چمتو کړي. د شاهد بیان کولی شي د شواهدو په توګه ګټور وي ترڅو وښیي چې هغه ځانګړي زیانمنني چې ستاسو د کورنۍ غړي ورسره مخ دي په استثنایی ډول یې دوی کورنۍ ته محتاجه کړي دي. د شاهدانو د بیانونو په اړه اضافي معلومات په 2 فصل کې شامل دي.

## 4.3 د غوښتنلیک پروسه

### 4.3.1 کله درخواست وکړئ

ستاسو د کورنۍ اضافي غړي باید ستاسو په لومړني د **(ARAP)** غوښتنلیک کې نومول شوي وي. که تاسو دا کار نه دی کړی او تاسو لاهم د ابتدايي پریکړې په تمه یاست، نو کیدای شي چې د **(ARAP) تیم** سره اړیکه ونیسي ترڅو ستاسو غوښتنلیک کې ستاسو د کورنۍ اضافي غړي د شاملولو غوښتنه وکړي.

یوځل چې ستاسو وړتیا تایید شي، تاسو به احتمالا د **(ARAP) تیم** سره زیاتر مستقیم تماس ولرئ او موږ وړاندیز کوو چې تاسو ژر تر ژره د خپلې کورنۍ د نورو غړو لپاره غوښتنه وکړئ ترڅو تاسو سره ځای په ځای شي.

یوځل چې ستاسو وړتیا تایید شي، تاسو به احتمالا **(ARAP) تیم** سره مستقیم تماس ولرئ او د کورنۍ غړي به تایید کړئ چې تاسو سره به ځای په ځای شي، تاسو به اړتیا ولرئ ډاډ ترلاسه کړئ چې دوی پدې وخت کې نومول شوي ترڅو د غوښتنلیک وړ وي. د **(ARAP)** لاندې. موږ وړاندیز کوو چې تاسو د پروسې په اوږدو کې ژر تر ژره ستاسو سره د ځای پرځای کیدو لپاره د خپلې کورنۍ اضافي غړو لپاره غوښتنه وکړئ.

### 4.3.2 څوک درخواست کولی شي

غوښتنلیک باید ستاسو لخوا جوړ شي، د **(ARAP)** سکیم الندې وړ غوښتونکي په ډول، نه ستاسو د کورنۍ د غړو یا بل چا لخوا. یو وکیل یا د قضیې کارکونکی ممکن ستاسو لپاره فورمه وسپاري (که تاسو یې لرئ)، مګر غوښتنلیک باید ستاسو په نوم جوړ شي.

### 4.3.3 کله د کورنۍ اضافي غړي انګلستان ته سفر کولی شي

ستاسو د کورنۍ اضافي غړو ته باید انګلستان ته د سفر دمخه د ننوتلو اجازه ورکړل شي. دا کیدای شي پدې معنی وي چې تاسو او ستاسو کورنۍ غړي به په یو وخت کې انګلستان ته رانه شي.

که دوی د **AFM قواعد** و سره سم تصویب شي ستاسو د کورنۍ د غړو به ملاتړ وشي ترڅو انګلستان ته د ویزې فورمه ډکه کړي.

په هرصورت، اوس مهال، دا د افغانستان دننه نه شي کیدی.

که ستاسو د کورنۍ غړي ومنل شي، دوی باید د انګلستان تیم سره اړیکه ونیسي ترڅو په خوندي توګه یو دریم هیواد ته سفر وکړي چې انګلستان ته را اویستل شي.

که دوی نشي کولی په خوندي ډول اسناد ترلاسه کړي یا دریم هیواد پریږدي، دوی باید **د برتانیا حکومت د دفاع وزارت تیم (ARAP)** او **DARR Team** تیم سره مشوره وکړي، څوک چې د دوی له ویستلو سره مرسته کوي.

# فصل 5 : د شواهد و چمتو کول

## 5.1 د شواهدو راټولول

مخکيني فصلونه کې په دې اړه توضيحات او وړانديزونه شته چې ستاسو د(ARAP) غوښتنليک سره کوم شواهد بايد چمتو شي چيرې چې ممکنه وي ترڅو تاسو ته د برياڵي غوښتنليک غوره چانس درکړي.

که تاسو په دې لارښود کې ښودل شوي شواهد نلرئ، دا د تاسو د (ARAP) لاندې د درخواست کولو مخه نه نيسي، که تاسو وکولای شی تشريح کړئ چې ولې اسناد شتون نلري چې د شواهدو په توګه وړاندې شي.

ځيني مثالونه چې ولې تاسو ممکن شواهد ونلرئ په لاندې ډول دي:

- تاسوته ممکن هيڅکله دا اسناد نه وي صادر شوي؛
- تاسو ممکن د خپل خونديتوب لپاره دا له منځه وړي وي؛ يا
- کله چې تاسو له افغانستان څخه ووتلئ ښايي تاسو هغوی له ځانه سره نه وي وړي

موږ لاندې د شواهدو په اړه ترلاسه شوي ځيني عامې پوښتنې وړاندې کړې چې د (ARAP) د غوښتنليک لپاره کارول کيدی شي.

- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د خپل غوښتنليک پيل کولو دمخه ټول اړين شواهد راټول کړي دي او چيرې چې تاسو هيڅ شواهد نلرئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د دې لپاره ځواب يا توضيح چمتو کړی چې ولې تاسو دا اسناد نه شئ ورکولئ.

- چيرې چې تاسو رسمي اسناد نلرئ چې د انګلستان حکومت يا دفاع وزارت سره ستاسو د کار ثبوت وي يا تاسو غواړئ اضافي شواهد پکې شامل کړئ، د مبارکۍ ليکونه يا د بريتانوي اردو همکارانو څخه د کرسمس کارتونه شامل کېداې شي اوکه نور کوم غير رسمي اسناد لرې چې ستاسو کارثابتولئ شي هم په خپل غوښتنليک کې شاملولای شي.

- د کارمندانو شميرې د 2006/2007 څخه دمخه شتون نه درلود، نو دا نشي چمتو کيدی که تاسو د دې نيټې دمخه د انګلستان حکومت يا دفاع وزارت لپاره کار کړی وي. د پايلي په توګه، د (ARAP) غوښتنليک د لومړی پوښتني لپاره معلومات نشي چمتو کيدی او تاسو بايد تشريح کړئ چې دا شميرې شتون نلري.

-

- که تاسو (بيج) دوه شميرې لرئ، د اډې څخه بهر د اغوستل شوي شميره د توضيحاتو پرځای د کيمپ دننه اغوستل شوي شميره توضيحات ورکړئ

# فصل 6 : څنګه خپل د (ARAP) غوښتنلیک تعقیب کړئ

که تاسو په انګلستان کې کوم ملګري، کورنۍ یا نورې اړیکې لرئ، تاسو کولی شئ له هغوی څخه وغواړئ چې دوی ستاسو د غوښتنلیک په اړه د انګلستان په حکومت کې د پارلمان غړي (MP) ته ولیکي ترڅو د ستاسو د غوښتنلیک په اړه مرسته وکړي. د کار د کړو څرنګوالی همدلته لیکل شوی دی.

تاسو کولا شی چې همدا لینک له هغوسره شریک کړئ.

او ستاسو کانټکټ یا اړیکه په انګلستان کې باید د پارلمان غړي ته ولیکي (د لیک یا بریښنالیک له لارې).

اړوند توضیحات په لاندې ډول په کې شامل کړي:

- پخپله (هغه کس چې خپل استازی ته لیکي)؛ او
- تاسو(هغه څوک چې (ARAP) سکیم لاندې درخواست کوي) ستاسو د غوښتنلیک په اړه توضیحاتَ، د سپارلو نیټه او ستاسو په غوښتنلیک کې ځنډ او ستاسو شالید( لکه د انګلستان حکومت سره ستاسو کار ولې تاسي د ځای پر ځای کیدو وړ یاست)

که څه هم د انګلستان څخه بهر غوښتونکي ممکن هڅه وکړي او د پارلمان غړي سره اړیکه ونیسي، دا ممکن چې ګټه ونلري ځکه چې د پارلمان غړي په ځانګړې توګه په خپلو حوزو تمرکز کوي.

موږ ستاسو د غوښتنلیک تعقیبولو لپاره منظم بریښنالیکونو لیږلو وړاندیز نه کوو. هیڅ شواهد شتون نه لري چې دا ستاسو غوښتنلیک ګړندی کوي.

## 6.1 ستاسو د غوښتنلیک د حوالې شمیر(ریفرینس نمبر)

ستاسي غوښتنلیک ته به د حوالې شمیر(ARAP) تیم له خوا ورکړل شي.
د 11 جنوري 2020 نیټې د پارلماني پوښتنې ته د لیکل شوي ځوابونو پراساس (دلته شتون لري) ، موږ پوهیږو چې:

- د یوه غوښتنلیک ګڼه چې په M پیل کیږي د 1 اپریل 2021 او 31 اګست 2021 ترمنځ ورکړ شوی دی.
- د یوه غوښتنلیک ګڼه چې په R پیل کیږي د 1 سپتمبر 2021 کې ورکړل شوی دی.

موږ په دې هم پوهیږو چې کوم غوښتنلیک چې خپلې مرجع ته ورسیږي نو د درخواست ګڼه په ATAE پیل کیږي. مخکې له دې چې د M او یا R د درخواست ګڼه ورکړل شي، د درخواست ګڼه چې له ATAE سره پیل کیږي ورکول کیږي.

## 6.2 د ایستلو لپاره چمتوالئ

د ویستلو د چمتوالي لپاره، تاسو باید ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو او د کورنۍ هر غړی چې انګلستان ته کډه کوي یو معتبر پاسپورټ او ویزه لري که چیرې د دې تر لاسه کول خوندي وي.

مورږ تاسو ته مشوره نه شو درکولائ چې پاکستان ته د سفر لپاره ویزې ترلاسه کړئ (چېرې چې ډیرې د (ARAP) درخواست کونکې تري ترانزیت تیرېږي) مګر دا د پوښتنې وړده او د سفر لپاره چمتو شئ که یې په خوندي توګه کولایشئ.

یوځل چې تاسو د (ARAP) لاندې ومنل شئ، تاسوته به د DARR Team لخوا یو وړاندیز واستول شي ترڅو ومني چې که تاسو غواړئ انګلستان ته کډه وکړئ.

د دي اې ار ار ټیم به د هر ډول پاتي اسنادو کاپي وغواړي، په شمول د ژباړې، نو هڅه وکړئ چې دا چمتو کړي

د DARR Team کله ناکله له غوښتونکو سره له افغانستان په وتلو کې مرسته کوي، په هرصورت دا معمولا وروسته له هغه کیږي چې دوی ټول اړین اسناد ولري. یوځل چې تاسو پاکستان ته سفر وکړئ یا ویستل شوي یاست، د برتانیا عالي کمیشنر باید ستاسو سره د استوګنې او انګلستان ته د راتلونکي ویزې لپاره ستاسو غوښتنلیک کې مرسته وکړي.

دا پروسه به ډیره چټکه شي که تاسو مخکې له مخکې پاسپورټ لرئ او په پاکستان کې د اوسیدو اجازه ولرئ.

یوځل چې تاسو برتانیې ته واستول شئ، تاسو به د نورو افغانانو سره په هوټل کې ځای په ځای شئ تر څو چې تاسو ته په انګلستان کې دایمي استوګنځای پیدا شي. تاسو ته به په انګلستان کې دایمي اقامه درکړل شي او خدماتو (بینېفیټ)، تعلیم، روغتیا پاملرنې او د کار حق ته به بشپړ لاسرسی ولرئ.

## 6.3 د (ARAP) د کار ټیم خبرول (تازه کول)

که تاسو وکولئ شو چې په خوندي توګه له افغانستان څخه راوځئ ، مهرباني وکړئ د DARR Team سره اړیکه ونیسئ چې دوی ته خبر او خپل اوسنی موقیعت ورکړې.

# فصل 7 : څه باید وکړئ که ستاسو غوښتنلیک رد شي

## 7.1 هغه حالات چې تاسي کولی شئ د خپل د (ARAP) غوښتنلیک د ردولو پر پریکړې بیاکتنه وغواړئ

**تاسو کولی شئ غوښتنه وکړئ چې ستاسو پر غوښتنلیک بیا کتنه وشي او پر پرېکړې بیا غور وشي[دلته](). تاسو باید دا غوښتنه، د ستاسي د غوښتنلیک د ردېدلو په باب، د پرېکړې لیک د ترلاسه کولو له نېټې څخه تر 90 ورځو پورې وکړئ.**

که چېرې ستاسو غوښتنلیک رد شي او د (ARAP) لاندې مستحق و نه بولل شئ ، تاسو به د انګلستان له حکومت نه په دې باب یو تاییدي لیک ترلاسه کړئ. تاسي حق لرئ چې د پرېکړې بیاکتنه وغواړئ، که تاسي:

- باور لرئ چې پرېکړه په غلطه توګه شوې او له پالیسۍ سره سمه نه ده، او یا
